# دټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

د پریکړې شمیره: ۳۲- ۱۳۸۹

موضوعګاني:
- د دایکندي ولایت د ولایتي شورا غړی مبلغ مرحوم محمدانور د ځای ناستي پیژندګلو.
- دټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له خوا د ولسي جرګې (۲۹) نوماندانو محرومیت د ولسي جرګې د نوماندانو د لست څخه .
- د کاپیسا ولایت په نجراب ولسوالی کې د رای اچوني محلونو د زیاتوالي په هکله د ولسي جرګې د یو غړي وړاندیز.
- د ټاکنو په ورځ د روغتیاي مرکزونو څخه د رایي اچوني مرکز په حیث د نه کار اخستني اړه د روغتیا وزارت مکتوب.
- غوښتونکو ادارو ته د باور لیکونو ورکول.

سرچینه: د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالنشاء ریاست

وخت،تاریخ او د ملاقات ځای: د ۱۳۸۹ل کال دوړي ۱۵چي د ۲۰۱۰ز کال د سپتامبر له۶ نیتي سره سمون خوري. د ټاکنوخپلواک کمیسیون مرکزي دفتر.

اعضای حا ضر: ښاغلی فضل احمد معنوي، ښاغلی سترجنرال ایوب اصیل، ښاغلي مومنه یاري، ښاغلي مستوره ستانکزی، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي.

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون ۱۵۶ مادي پراساس.
د ټاکنو خپلواک کمیسیون پر اجندا کې د دخیلو موضوعګانو پر هکله پریکړه کړې:

۱ – د ټاکنو قانون د (۲۹)مادي (۴) فقرې پراساس د دایکندي ولایت د ولایتي شورا غړي د مړینې له کبله ښاغلی خادم حسین رضایي د هغه ځای ناستی و پژندل شو.

۲ – د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له خوا د روان کال د ولسي جرګي د نوماندانو څخه د ۲۹ نوماندانو ویستل د پریکړه لیکونو سره یوځای د تایید او تصدیق وړ دي.

۳ – د کاپیسا ولایت نجراب ولسوالی کې د محلونو زیاتوالی ناشوني دی.

۴- د روغتیا وزارت د حج او اوقاف وزارت د سرې میاشتي ریاست د ارګانونو څخه د رای اچوني مرکز په حیث استفاده او همکاری په اړه دې د جمهور ریس له خوا دې نوموړو وزارتونو ته دې وړاندیزونه وشي.

۵- (۳۴) رسنیزو او نورو ادارو ته د پریکړه لیکونو سره یوځای د اسنادو په نظر کې نیولو سره دې باور لیکونه ورکړل شي.